AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات بدوش نویسندهٔ مطلب میباشد

آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۴/۱۱

# د یوه نازک شعر، نازکه ژباړه

ما خپل ځیني لیکلي یادداشتونه د «لار ورکي لارویان» تر سرلیک لاندې خپاره کړل. «لار ورکي لارویان» له کابل نه پیښور، له هغه ځای نه ماسکو او بیا ډنمارک ته د را رسیدو غملړی داستان دی. ښایي لوستل یې په ځینو برخو کې غمجن او په ځینو برخو کې یا جالب یا سترېکونکی وي.

د دې اوږده داستان په پای کې زما خپله یوه قصیده هم راغلې ده چې عمداً مې دغه لوی داستا ن د شعر په ژبه د یوې قصیدې په قالب کې هم خوندي کړی دی.

په دې قصیده کې ما د سعدي صاحب دوه بیتونه هم د ژباړې په ډول راوړي دي او د راوړو نه په مخکیني بیت کې مې د ده د نامه په ذکر سره ښوولې ده چې سعدي داسې فر مایلي دي. دلته زه «د یوه نازک شعر، نازکه ژباړه» تر سر لیک لاندې لومړی د سعدي صاحب دوه بیتونه او بیا زما منظومه ژباړه درنو لوتونکو ته وړاندې کوم:

آن دو شـــــاخ گــــاو اگـــر خـــر داشـــتـي
یـــــک شـکــم در آدمـــي نـــگـــذاشـتـــــي

گــــربـه مـسـکـیـن اگــر پـــر داشــتــــــي
تـــــخـم گـنـجشک از زمـیـن بـــــرداشتـــي

سعدي

خـر کـه پــور کـا د غـویي ښکر کومـه ورځ
کــولـمـي پـرې به نه ږدي نـس کې د انسان

دا مـظـلـومـه پـیـشـوکـه وزر پــیـدا کـــا
پـرې به نـه ږدي پــه هوا کې ټول مــرغان

آصف بهاند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ